د زده کولو او ښودلو د حلقو

# جدول

# د اولاد درې حقونه

(قسط:2)

24 جولای، 2025



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

(1): پۀ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بيان: 5 منټه (2): دُعا يادول: 5 منټه

(3): [د خپلو اعمالو] جائزه: 5 منټه، ټول وخت: 15 منټه-

نن به د زده کولو او ښودلو پۀ **حلقو** کښې **د مور او پلار درې حقونه (قسط:2)** په عنوان سره به معلومات ورکولے شي او د ټيلو لګولو پۀ وخت لوستلے کيدونکې دُعا به يادولے شي- پۀ اخره کښې به د نيک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کيږي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم!

## د دُرُود شريف فضيلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:** څوک چې پۀ ما باندې يو ځل دُرُودِ پاک ولولي الله پاک پۀ هغۀ باندې 10 رحمتونه ليږي او د هغۀ پۀ اعمال نامه کښې 10 نيکۍ ليکي- [1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ علٰى مُحَمَّد

## د اولاد درې حقونه (قسط: 2)

## آيت مبارک

الله پاک فرمائيلي دي:

| | |
|---|---|
| وَ اْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَ اصْطَبِرْ عَلَيْهَا ؕ (پاره 16، سورة طٰهٰ:132) | ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او خپل کور والؤ ته د نمانځۀ حکم ورکړۀ او پخپله هم پۀ نمانځۀ کلک اوسۀ- |

معلومه شوه چې بال بچ يعني آل، اولاد ته د نمونځ تلقين کول هم زمونږه پۀ ذمه وارۍ کښې شامل دي-

---

[1] …ترمذی، ابواب الوتر، باب فی فضل الصلاة علی النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:144، حديث:174-

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: انسان د خپل بال بچ محافظ دے او د هغهٔ نه به د هغه د بال بچ پهٔ باره کښې پوښتنه کولے شي-[1]

علامه علي قاري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک پهٔ شرح کښې فرمائي: يعنې په ورځ دقيامت به د انسان نه به پوښتنه کيږي چې دهٔ د خپلې ښځې او بچو حقونه پوره ادا کړي دي که نهٔ-[2]

## د اولاد درې حقونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د اولاد ډير زيات حقونه دي، پهٔ کومو کښې چې درې حقونه مونږه مخکښې زده کړي دي، درې به نن زده کوو- راځئ چې وړومبے د زده کړے شوو حقونو دوهرائي وکړو: (1): د ښې مور انتخاب (2): د بچي پهٔ غوږ کښې اذان کول (3): تحنيک (ګهټي ورکول)-

### نور درې حقونه کوم چې نن زده کول دي:

**وړومبے حق:** د بچي ښهٔ نوم کيښودل

**وضاحت:** د ښې معنې والا نوم کيښودو ته ښهٔ نوم کيښودل وئيلے شي- افضل دا دي چې هغه نوم کيښودے شي د کوم چې پهٔ حديثونو کښې فضيلت بيان شوے دے يا د الله والؤ يعنې نبيانو، وليانو پهٔ نومونو باندې نوم کيږدئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د هغوئي فيضان

---

[1] ... سنن ابي داود، کتاب الخراج والامارة، باب: ما يلزم الامام من حق الرعية، صفحه: 481، حديث 2928، ملخصًا-

[2] ... مرقاة المفاتيح، کتاب الامارة والقضاء، جلد: 7، صفحه: 241، تحت الحديث: 3685-

به هم نصيب کيږي- پهٔ حديثِ پاک کښې فرمائي: د چا چې ماشوم پيدا شي، هغهٔ له پکار دي چې د هغهٔ ښهٔ نوم کيږدي- (1)

**نوټ:** د ځوي نوم **محمد** يا **احمد** ږدئ! د حديثونو مبارکو مطابق ❁ د چا چې ځوي پيدا شي او هغهٔ د هغه نوم **محمد** کيږدي نو د دې پهٔ برکت به هغه او د هغهٔ ځوي دواړه جنَّت ته ځي- (2) ❁ د چا نوم چې **احمد** يا **محمد** وي هغه به دوزخ ته نهٔ ځي (3) ❁ چا چې زما پهٔ نوم باندې نوم کيښودو، تر قيامته پورې به سحر او ماښام پهٔ هغهٔ باندې برکتونه نازليږي- (4)

**نوټ:** د نومونو پهٔ باره کښې د تفصيلي معلوماتو د پاره د مکـتبة الـمدينه کتاب: **نام رکھنے کے احکام** ولولئ-

## دويم حق: عقيقه کول

**وضاحت:** د ځوي يا د لور د پيدا کيدو پهٔ شکرانه کښې چې کوم څاروے ذبح کولے شي، هغې ته **عَقِيقَه** وئيلے شي- عقيقه سُنَّت ده- د دې پهٔ برکت به بچے د افتونو او مصيبتونو نه محفوظه وي- اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم! (5)

**د عقيقې پهٔ باره کښې مَدَني ګل:** ❁ عقيقه پهٔ اوومه ورځ کول افضل دي، مثلاً ماشوم د شروع پهٔ ورځ پيدا شو نو عقيقه د راتلونکې نهې پهٔ ورځ وکړئ- د مثال پهٔ توګه که د

[1] ... شعب الايمان، الستون من شعب الايمان وهو باب فی حقوق الاولاد واهلين، جلد:6، صفحه:401، حديث:8666۔

[2] ... کنز العمال، کتاب النکاح جلد:8، جز:16 صفحه:175، حديث:45215۔

[3] ... فردوس الاخبار، جلد:5، صفحه:472، حديث:8515، دار الکتاب العربی۔

[4] ... کنز العمال، کتاب النکاح جلد:8، جز:16 صفحه:175، حديث:45215۔

[5] ... مرآۃ المناجيح، جلد:6، صفحه:4، ملخصًا۔

دې نهې په ورځ يـې اونۀ کړے شئ نو په ژوند کښې چې کله هم عقيقه کول غواړئ، هُم د نهې په ورځ يـې وکړئ چې اوومه ورځ وي[1] ❁ په عقيقه کښې دې يو چيلے يا چيلۍ ذبح کړے شي ❁ بهتره دا ده چې د هلک په عقيقه کښې دوه چيلي او د جينۍ په عقيقه کښې يو چيلۍ ذبح کړے شي، که د دې خيال اونۀ ساتلے شي نو هم پکښې څۀ باک نشته[2] ❁ مثلاً که 7 ماشومان وي نو هم يو غټ خاروے د ټولو د عقيقې د پاره قرباني کيدے شي[3] ❁ د قربانۍ په غټ خاروي کښې هم د عقيقې حصه شامليدے شي۔

**نوټ:** د عقيقې په باره کښې د تفصيلي معلوماتو د پاره د شيخِ طريقت اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله **عقيقے کے بارے ميں سوال جواب** ولولئ!

**دريم حق:** ښۀ تربيت کول

**وضاحت:** ماشومانو ته اِسلامي تعليمات او اِسلامي اداب ښودل **ښۀ تربيت** دے۔حديث پاک کښې دي:د پلار دخپل بچي ښۀ تربيت کول د بچي دپاره بهترينه تحفه ده۔ د ماشومانو ښۀ تربيت دې څنګه وکړے شي، په دې باره کښې د معلوماتو د پاره د مکـتبة الـمدينه کتاب **تربيتِ اولاد** ولولئ!

## دوهرائي

نن مونږه د اولاد درې حقونه زده کړل، په ذِهن کښې يـې کښينوئ: **(1)**: د ماشوم ښۀ نوم کيښودل **(2)**: عقيقه کول **(3)**: ښۀ تربيت کول۔

---

1… فتاوٰی رضويه، جلد:20، صفحه:586، ملخصًا۔

2… بهارِ شريعت، جلد:3 صفحه:357۔

3… فتاوٰی اہل سنت، ريفرينس نمبر: Grw221۔

# د ښودلو او زده کولو په حلقو کښې يادولو والا دُعا

## د تيلو لګولو په وخت لوستلے کيدونکې دُعا

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

**ترجمه:** د الله پاک په نوم سره شروع کوم چې ډير مهربانه رحمت والا دے۔

د مدينے سرکار، د زړونو قرار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې بغير د بِسۡمِ اللّٰه وئيلو نه تيل ولګوي نو د هغۀ سره 70 شيطانان تيل لګوي۔ [1]

## د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

### د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځه واړه نـمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نـمونځ نه مخکښې مو د نـمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو سُوۡرَةُ الۡمُلۡك لوستلے يا اوريدلے؟ (5): آيا د هر نـمونځ نه پس مو آية الـکرسي، تسبيح فاطمه، سُورَةُ الۡاِخۡلاص لوستلے؟ (6): آيا د کنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلي يا اوريدلي؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آيا د فضول نظر نه په بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مکـتبة الـمدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو کړے؟

---

1... عمل اليوم وليل، باب تسمية اذا دهن، صفحه: 78، حديث: 175۔

(15): آيا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آيا پۀ تاسو او جي وئيلو سره مو خبرې کړي؟ (18): آيا پۀ مکـتبة الـمدينه بالغان کښې مو لوستلي، يا مو ښودلي؟ (19): آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پۀ دوو ګينټو کښې کورته رسيدلي يئ؟ (20) : آيا دوه ګينټې مو پۀ ديني کارونو باندې لګولي؟ (21): آيا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاڅول کړي؟ (22): آيا د نورو کوروونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آيا پۀ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آيا د جومات درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آيا د زلفو د پرېښودو پۀ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آيا يو موټے ګيره مو پرېښودې؟ (28) : آيا د ګناه کولو پۀ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آيا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آيا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آيا څۀ نا څۀ مو پۀ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آيا د ماسپښين سنتِ قبليه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آيا تهجد يا صلوٰةِ الليل مو ادا کړي؟ (34): آيا د اَوَّابِيْن يا اِشْرَاق او څاښت نـمونځ مو کړے؟ (35):آيا د مازديګر يا د ماسخوتن سُنتِ قبليه مو ادا کړي؟ (36): آيا پۀ 12 ديني کارونو کښې مو د يو ديني کار ترغيب ورکړے؟ (37) : آيا د نورو نه غوښتلے شوي څيزونه خو مو اِستعمال کړي نۀ دي؟ (38): آيا د دروغو، غيبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آيا د څۀ وخت د پاره مو مَدَني چينل کتلے؟ (40): آيا ذاتي دوستي خو مو نۀ ده کړې؟ (41): آيا پۀ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آيا د عاجزئ داسې الفاظ خو مو نۀ دي وئيلي کوم چې زړۀ نۀ دي منلي؟ (43): آيا د صفايئ او سليقې خيال مو ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آيا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانولو پۀ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آيا د څۀ نا څۀ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئيلې؟ (47): آيا چوک درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور

پلار او پیر او مرشد ته مو ایصالِ ثواب کړے؟ (49): آیا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آیا د ټریفک د قوانینو پابندي مو کړې؟ (51): آیا د تنظیمي طریقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آیا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آیا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آیا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او پۀ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آیا عمامه شریف مو پۀ سر کړې؟ (56): آیا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدینه کارکردګي

✿ پۀ لیکلو خبرې کول 12 کرته ✿ پۀ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ✿ پۀ سترګو کښې د سترګو اچولو بغیر خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نیک اعمال

(57): آیا د اِسلامي خوئیندو هفته وارې اِجتماع ته مو څوک اِسلامي خور د کور نه لیږلې؟ (58): آیا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې یا اوریدلې؟ (59): آیا پۀ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آیا یومِ تعطیل اِعْتِکَاف مو کړے؟ (61): آیا د مریض یا غم زپلي تپوس یا غم خوري او د چا پۀ وفات کیدو مو تعزیت [لاس نیوه] کړې؟ (62): آیا پۀ هفته کښې مو پۀ یوه ورځ کښې روژه نیولې؟ (63): آیا هفته واره رساله مو لوستلې یا اوریدلې؟ (64): آیا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آیا محکښې راتلونکي او اوس د نۀ راتلونکو اِسلامي وروڼو مو د دیني ماحول سره تړون پیدا کړو؟